AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

حیات پیاوړی

۲۰۱۹/۰۴/۰۵

# سوله د چا په لاس، د چا لپاره؟

سوله هغه ستر نعمت دی چې په نشتون کې يې خلک د يو بل ستر خداوندي او طبيعي نعمت يعنې ژوند، د ژوند بقا، د ژوند اړتيا، د ژوند ښکلا، او نورو آسانتياو او حقوقو څخه د يو منفعت طلب، حريص، جابر، زورور، ظالم او جګړه مار پر لاس بې برخې کيږي. کله چې يو حق په زور او ناروا له چا څخه و تروړل شي، نو بيا دلته پوښتنه پيدا کيږي چې دا حق د چا له خوا و غوښتل شي او څنګه بيرته تر لاسه شي او بالاخره و ساتل او خوندي شي؟
له شک پرته د سولې غوښتنه بايد د هغه چا له خوا وشي چې نوموړی حق يې تروړل شوي وي. نو که سولې ته اړمن په خپله دا غږ پور ته نه کړي، نو بل هيڅ څوک دا کار د ده لپاره نه کوي. زما په اند دا غږ د افغانانو له خوا تر يوې کچې پورته شوی دی، خو په ډير متفرق او کمزوري ډول له هغه او دغه ځايه پورته شوی دی، نو څکه خو دې ډول غږ ډير خپل ځای نه دی نيولای.
د سولې اړتيا شته او غوښتنه يې هم د هر خاص او عام سوله ته تږي افغان له خوا کيږي، خو اصل خبره دا ده چې دا سوله بايد څنګه او د چا په لاس رامنځته شي؟
د خدای په کتاب کې د سولې رامنځته کيدو لپاره يو ميکانيزم ته څرګنده اشاره شوې ده او هغه داسې ده: (فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ). په دې آيات شريف کې د شخړې دواړو لورو ته اشاره نه، بلکې دريم شخص ته شوې ده. نو دا خبره واضح ده چې د دوه متخاصمو اړخونو تر منځ سوله په دريم ګړي لاس تر سره کيږي او هغه دريم ګړی بايد خيرخواه او عادل کس يا مرجع وي. څکه چې د جګړې هر اړخ ځان برحقه او حق په جانب بولي، او يا د ډيرې برخې او امتيازاتو د لاسته راوړلو لپاره د دوی خبرې تل په مشاجره او مجادله اوړی. څکه نو د هر دود او دستور او هر کچه د سولې د تآمين لپاره د دريم ګړی او خيرخواه شخص او مرجع اړينه ده. د دې حکم په رڼا کې د پريکړو څخه سرغړونکی باغي بلل کيږي او پر وړاندې يې سخت اقدام کيږي، تر څو حق ته غاړه کيږدي.
يو افغاني متل دی چې وايي: يعنې يو څوک خپل سر په خپله نه شي خريلی. په افغاني دود کې هم د دوه دښمنو يا د عوی د دوه اړخونو تر منځ هر ډول جنجال د دريم ګړو په واسطه چې په ترکيب کې معمولا د تولنې پوه، ژمن او مطرح عناصر برخه لري. په دوديزه توګه زموږ په ټولنه کې دا نقش د دين پوهو عالمانو او قومي مجربو سپين ږيرو ته سپارل کيږي او هغوی دواړو لورو ته د سختو شرايطو په اينبودلو (لکه د تيګې اينبودل او سخته نغدي او جنسي جريمه ټاکل) داسې پريکړې کوي چې دواړه لورې يې په منلو او عملي کولو اړ او مکلف ګڼل کيږي. په نړيوال کچه هم د ستونزو د حل او منځګړتوب لپاره اداري او سازمانونه شتون لري، او د سولې د پلي کيدو لپاره يو ډول معتبرو ضمانت کونکو څخه کټه اخستل کيږي.
پورته اشاره وشوه چې هر هغه څوک چې د خدای (ج) د حکم او افغاني دود له مخې که يو کس له پريکړو څخه سرغړونه کوي، نو د سرغړونکي په خلاف په متحدانه توګه اقدام تر سره کيږي او باغي اړخ د پريکړې يا پريکړو منلو ته اړ کيږي. دا هغه څه دي چې د شوو پريکړو د پلي کيدو لپاره باوري او ټينګ ضمانت رامنځته کوي.
که موږ د قطر د سولې خبرې په دوه پورتنيو تلو، تول کړو نو و به ګورو چې پر مذاکراتو حاکم لورې په افغانستان کې د جګړې دوه متخاصم لورې دي. په دا ډول مذاکراتو کې موږ عملا هغه څه ګورو چې په هغه کې هم د خدای د حکم او هم د افغاني ملي دود خلاف ورزي کيږي.
دا يادونه اړينه بولم چې سوله يوازې د دوه يا څو متخاصمو لورو تر منځ د جګړې او ډز بندی په معنا هم نه ده، بلکې د جګړې د بنديدو تر څنګه د يوې ټولنې عامو وګړو ته ټولنيز عدالت په رڼا کې د ژوند يو خوندي چاپيريال رامنځته کولای او د تل پاتې سولې ضمانت کولای شي.
د عدالت په اړه مولانا جلال الدين بلخي وايي چې: «هر شي پر خپل ځای اينبودل عدالت دی». دلته ګورو چې: لومړي د قطر په مذاکراتو کې دا ډول عدالت نه دی رعايت شوی، څکه دريم ګړي او خير خواه ته پکې هيڅ نقش نه دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورکول شوی او د یو خپور شوې نوم لړ له مخې ګورو چې د دغې مشورتي غونډې ګډونوال عمدتا له متخاصمو لورو څخه غوره او په ګوته شوي دي. دوهم د پریکړو د عملي کولو لپاره د ضمانت شرایط هم څرګند نه دي. دریم په دې خبرو داسې اخلاص نه تر سترګو کیږي چې خیر او ګټه یې افغانانو ته ورسیږي او یا رښتیني او عادلانه سولې سبب وګرځي. دلته امریکا (او که احیانا د افغانستان د ملي وحدت اداري ته هم برخه ورکول شي، چې لا تراوسه نه ده ورکول شوې) او طالبانو (چې شاته یې پاکستان او حتی انګلیس هم ولاړ دی) د دوه متخاصمو یعنې په جګړه کې ښکیل لوري خپل سرونه په خپله خربي. که چیرې په هر ډول مذاکراتو کې د ژنیو او بن غیر منطقي او ناکامې تجربې تکرار شي، نو شک پرته نوې پریکړه نه یوازې دا چې زمونږ په هیواد کې د سولې د راتلو سره هیڅ مرسته و نه کړي او ښایي جګړه او د جګړې ناورین په نوې بڼه ادامه و مومي.
د دې اروزنې څخه دا پایله هم لاسته راځي چې د دریم ګړې خیرخواه شخص یا معتبرې مرجع نشتون له امله دا پروسه په یوه ناعادلانه او ناسالمه توګه پرمخ وړل کیږي. یعنې د سولې د اصلي عناصرو (له خدایه ویریدونکي، وطن دوسته او ولس دوسته خلکو) شتون او نقش په دې بهیر کې غایب ښکاري، نو ځکه ترې ډیره د خیر تمه او هیله نه شي کیدای. کله چې اصل عنصر په نوموړی بهیر کې غیر حاضر دی او متخاصم لوري هر څه په خپل لاس او انحصار کې یرغمل ساتي، دا حالت داسې پیغام ورکوي چې دا خبرې اصلا د سولې لپاره نه، بلکې د متخاصمو ډلو د ګټو لپاره خپل منځي جوړجاړي او د یوې پټې او مرموزې معاملې د تر سره کولو لپاره تر سره کیږي چې نه به افغانانو ته د سولې زیری راوړي او نه به یې په داسې سازشي خبرو اترو په پایله کې د جګړې له لاسه رامنځته شوي ځلوییشت کلن ټپ ته درمان و ګرځي.
خو تجربو ښودلې تېل شوي او سازشي دولتونه او حکومتونه لکه کوږ بار تر منزله نه رسیږي.
متل: ځمکه هغه سوزي چې اور پرې بلیږي، نو ځکه ما هم درد له تاسې سره شریک کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ